**د نړیوال خوندیتوب غوښتونکو لپاره آنلاین بکینګ یا د ملاقات وخت اخستل**

د ۲۰۲۳ کال د اپریل له ۵ نیټې څخه ، هغه بهرني اتباع چې میلان ښار یا د هغه ولایت کې اوسیږي او غواړي د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه وکړي کولی شئ د PRENOTAFACILE (prenotafacile.poliziadistato.it.) پورټل کې د خپل ځان د راجستر کولو له لارې د مهاجرینو دفتر ته چې Via Cagni کې موقیعت لري لاسرسی ومومئ. د " Procedure per la presentazione" خدمت انتخاب کړئ او بیا لومړی موجوده نیټه کلیک یا غوره کړئ.

*له دوشنبه ، ۲۰۲۳ کال د جولای ۱۷ راهیسي ، په پلیټ فارم کې د یو واحد کارونکي په توګه د ځان راجستر یا ثبت کول یوازې د "Procedure per la presentazione" خدمت لپاره غیر فعال شوی.*

*هغه بهرني اتباع چې د پیژندنې یا هویت سند (یا د هغې فوتوکاپي / عکس) لري کولی شي د PRENOTAFACILE پورټل کې د ضمیمه شوي لیست کې د ذکر شوي انجمن یا ادارو له طریقه د ملاقات وخت اخستلو له لارې راجستر شي (د پورتني ښیې کونج کې ضمیمه ته مراجعه وکړئ چې د ۲۰۲۴ کال می په ۹ نیټه کې تازه شوي).*

دا انجمنونه یا اداري به په خپل مرکزي دفتر کې د مرکې لپاره وخت ورکړئ، چیرې چې غوښتونکي به راجستر شي او د مهاجرینو څانګې دفتر کې به د ملاقات وخت ورکړل شي، چیرې چې هغوی کولی شي د پیژندنې پروسه یا پړاو او د خپل غوښتنلیک سپارلو لپاره ټاکل شوي نیټې کې لاړ شي.

د راجستر کولو لپاره، غوښتونکي اړ دي چې خپل د پیژندنې اسناد (نه درلودلو حالت کې، یو فوتوکاپي یا د هغه یوه عکس) انجمن یا اداری ته ورکړئ.

بهرني اتباع چې اسناد نلري هم کولی شي د مهاجرینو دفتر سره چې *Via Cagni کې موقیعت لري،* د پورتنی لیست شوي انجمنونو یا ادارو له طریقه د ملاقات وخت واخلئ (د پورتنی ښیې کونج کې ضمیمه وګورئ ، د ۲۰۲۴ کال د می په ۹ نیټه کې تازه شوي.)

د راجستر کولو لپاره، غوښتونکي باید خپل شخصي معلومات او د پاسپورټ اندازې دوه عکسونه انجمن یا اداري ته وسپاري.

په یاد ولرئ چې د ۲۰۲۴ کال د اپریل له ۱۷ نیټې څخه بهرني اتباع د "procedure per la presentazione " سره د ملاقات وخت لپاره کولی شي نه یوازې مرکزي دفتر چې Via Cagni کې موقیعت لري بلکه د پولیس دفترونو ته چې Sesto San Giovanni، Cinisello Balsamo، Rho-Pero، او Legnano کې موقعیت لري هم لاړ شي.

د AVSI ټولنې یا انجمن سره د شراکت پراخولو لپاره یو بل ګام اخیستل شوی، چې موخه یې د هغه نړیوال خوندیتوب غوښتونکو لپاره د پروسې یا کړنلاې ته د لاسرسي اسانتیا ده چې د "زیانمنونکي موضوعات" لاندې لکټګورۍ کې راځي: د ۶۰ کالو څخه ډیر عمر لرونکي خلک او میرمني، امیندوارو میرمنو ته لومړیتوب ورکول کیږي (چې د هغوی حالت باید د عامې روغتیا مرکز څخه د سند یا تصدیق په مرسته ثابت شي). د دې کټګوریو غوښتونکي نه یوازې په ضمیمه شوي لیست کې له کوم میز سره اړیکه نیولی شي بلکه دوی کولی شي په میلان کې د AVSI مرکز د منشي یا سکرتر دفتر له لارې چې *Viale Monza no. 79 کې موقیعت لري* په حضوري توګه یا ۳۵۱۵۷۳۵۵۶۷ شمېرې ته د زنګ وهلو له طریقه د مهاجرینو دفتر میز یا مرکز سره چې *Via Cagni no. 15 کې موقیعت لرئ د ملاقات وخت غوښتنه وکړئ. د سکرتر دفتر د سه شنبې، چهارشنبه او پنجشنبې په ورځو کې د سهار له ۹ بجو څخه د ماسپښین تر ۱ بجې پورې خلاص وي، او د AVSI په میز یا مرکز کې به مرکه تنظیم کړئ.*

هغه بهرني اتباع چې د زیان منونکونکي کوم بل اضافي کټګوریو کې راځي، د ایټالیا د مقننه فرمان نمبر ۲۰۱۵/۱۴۲ د ۱۷ مادې له مخې، کولی شي د dipps146.00p0@pecps.poliziadistato.it بریښنالیک له لارې د مهاجرینو دفتر چې Via Cagni no. 15 کې موقیعت لري د ملاقات وخت واخلئ.

دا سپارښتنه کیږي د بریښنالیک موضوع یا **subject** کې **"4^ Sezione – rifugiati. Richiesta appuntamento per soggetto vulnerabile"** شامل کړئ او د راپور شوي زیانمنتیا لپاره ټول ملاتړ کوونکي

اسناد ضمیمه کړئ. د غوښتنلیک او ضمیمه اسنادو د لومړنۍ ارزونې وروسته، د مهاجرینو دفتر به د AVSI په مرکز کې د ملاقات وخت تنظیم کړئ.

غوښتونکي باید په حضوري توګه غوښتنه وکړي او لاندې اسناد وسپاري:

• هر هغه تصدیق یا سند چې دا ثابت کړئ چې تاسو په میلان ښار یا هغه ولایت کې ژوند کوي.

• یو پاسپورټ یا اعلامیه چې ستاسو سم او دقیق شخصي معلومات ښیي یا نور د پیژندنې اسناد، یا د هغه فوټوکاپي، که چیرې غوښتونکی ولري.

• د ۶۰ کالو څخه ډیرعمر لرونکي کسان: د پیژندنې سند چې د دوی عمر ثابتوي.

• امیندواره میرمنې: د امیندوارۍ سند یا تصدیق چې د عامې روغتیا مرکز لخوا صادر شوی.

د مرستې میز یا مرکز به د مهاجرینو لپاره یو ځانګړی ملاقات ترتیب کړي ترڅو په ټاکل شوې نیټه د مهاجرینو دفتر ته د پیژندنې او غوښتنلیکونو سپارلو لپاره لاړ شي.